AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق ۲۰۲۵/۰۹/۰۱

# ښاغلي عبدالباري جهاني ته پرانیستی لیک

محترم جهاني صاحب!
سلامونه!
زه تاسو ته د یو داسي شخص په توګه دا لیک لیکم چي ستاسو د شعرونو په سیوري کي ئي ژوند کړی دئ.
ستاسو شاعري زما لپاره هغه کړکی وه چي د ژوند د دیوالونو تر منځ ئي رڼا راوستله، د تفکر و دښت ته د ژوند سیند ده، او و درنې چوپتیا ته خواخوږي ملګری.
کله کله ګورم چي تاسو د خلګو د خبرو او بي پروا تبصرو له امله خفه کېږئ ، له خپل دریځ او خبرو نه تېرېږئ، او له هر چا څخه د احترام تقاضا کوئ، نو ځان اړ بولم چي د یو کشر په صفت تاسو ته یو څه ولیکم.
جهاني صاحب! اوسنی نړی هغه پخوانی نړی نه ده چیري چي حکمت یوازي شاګردانو ته سپارل کېدئ او یا شعرونه یوازي د دربارونو او د مینوالو په حلقو کي لوستل کېدل. نن هر سم او نا سم ږغ ته یو پلېټ فارم ورکړل سوی دئ یعني د یوهی او د ناپوهی دواړو آوازونه خپاره دي . ستاسو په څېر یو شاعر ، چي خپل زړه زموږ سره شریکوي، به خامخا هم دعواوي اوري او هم به سپکاوی، هم درناوی او هم تمسخر. خو دا خبره مه هېروئ چي جهالت یو شور دئ حقیقت نه دئ.
له تاریخه موږ ته دا څرګنده ده چي هر هغه څوک چي په اخلاص سره خبري کوي تل د خپل زمان د بي صبری له لوري ازمویل سوی دئ. پر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ملنډي وهل سوي دي، جلاوطنی ته اړ کړل سوی دئ او د ډبرو تېری پر سوی دئ، خو هغه خپل پیغام ته تر هغه وخته ادامه ورکړه تر څو چي ملتونه بدلېدل. سقراط د اتن د قاضیانو مخي ته ودرېد، هیڅ چاپلوسي ئي ونه کړه او د زهرو جام ئي نوش کړ خو د حقیقت له پلټني څخه ئي انکار ونه کړ. منصور حلاج د خپل زړه د عقیدي په ویلو وژل سوی دئ، خو د هغه د خبرو تر څو پېړیو وروسته هم ازانګي ګونګي سوي نه دي. ګالیلو تمسخر ولید او چوپتیا ته اړ سو، خو د اسمانونو بنه ئي له تل لپاره بدله کړه. زموږ شاعرانو هم، له رومي څخه تر غالبه او له پیرروښانه تر رحمانه په خپل ژوند کي رد او سپکاوی لیدلی دئ. خو تاریخ د هغو کسانو ږغونه نه دي خوندي کړي چي دوی ته ئي ښکنځل کول؛ بلکه د دغو پوهانو د خبرو اورئ په کاغذي پاڼو کي تر اوسه لا هم بل ساتلی دئ.
ګرانه مشره، تاسو هم د همدي نه ماتېدونکي ځنځیر یوه کړی یاست، د حقیقت ویونکو، د خوب لیدونکو، د شاعرانو او پوهانو. که دغو لویانو د خلګو له ازاره خلاصون ونه موند، نو ولي تاسو له دي توندي نړی څخه د نرم چلند تمه لرئ؟ خپل زړه مو مه خفه کوئ. تیري یوازي د هغو ونو پر لور غورځول کیږي چي میوی لري؛ وچي درختي څوک په کاڼو نه ولي.
تاسو سپینږیری یاست، علمیت مو ډېر دئ، او د درناوي وړ یاست لکه څرنګه چي تاسو خپله هم همیشه یادونه کړې ده. خو درناوی، لکه څنګه چي تاسو ښه پوهېږئ، تل په خپل وخت کي نه راځي. ځیني وختونه لسیزې وروسته راځي، ځیني وختونه یوازي له مړیني وروسته. مهمه خبره دا نه ده چي خلک دي حقایق همدا اوس ومني، اړینه دا ده چي حقیقت تل پاته وي. او حقیقت تل صبر کوي، د هغه دښمنان تل له منځه ځي. او بیا تاسو د داسو خلګو څخه د عزت توقع لرئ چي له هغو سره دا شته مني ګردسره سته نه، نو تاسو ته به ئي څنګه درکړي؟
هره سپکه خبره چي پر تاسو یا و تاسو ته کیږي، دا د دي نښه نه ده چي ستاسو خبري ژوندی دي. مړي نه سپکیږي، یوازي ژوندي سپکیږي. یوازي هغه څوک چي د فکر ولاړي اوبه خوځوي، د مخالفت څپي راپورته کوي. او مخالفت ستاسو د ناکامی نښه نه ده، بلکه ستاسو د ځواک نښه ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

نو تاسو لیکلو ته دوام ورکړئ او هغه وواياست چي ويل ئي اړين بولئ. د خبرو او نظرونو طوفان دي ستاسو شاوخوا وګرځي، خو تاسو دي طوفان ته مه ورننوځئ. ستاسو دنده دا نه ده چي منتقدان چوپ کړئ، بلکه دا ده چي له خپلي ليدلاري سره وفاداره پاته سئ.
تاسو يو ياغي شاعر ياست، ياغي شاعر يعني يو داسي څوک چي حتی د تختونو د فرمانونو پر وړاندي هېڅکله سر نه ټيټوي. نو بيا څنګه کېدای سي چي ستاسو په څېر شخصيت دي د عامو خلکو د سپکو تبصرو او تشو خبرو څخه متزلزله سي، کوم چي د ادب او هنر له جوهره بې برخي دي؟ ستاسو د کلام وزن د تلپاتي وختونو دئ، نه د ناپوهانو د لنډمهاله شور لپاره.
هغه ستاسو خپل بيت به درپه ياد کړم:

**خالق مې ککرې سجدې ته نه ده پيدا کړې**
**تنديه ماتوم دي لګومه خو دي نه!**

ستاسو قدآور شخصيت نه بايد د يو څو خلګو د تعصب په نعرو کي ورک سي، تاسو سمندر ياست او هغوی د غاړي ځګ. لکه څنګه چي مولانا ويلی دي:

**تو قطره ای در اقيانوس نيستی**
**تو تمام اقيانوسی در يک قطره**

درونډ او د درناوی وړ استاده، تاسو د يوه بهېدونکي سيند په څېر ياست چي بايد تل پر مخ ولاړ سي. تاسي نه سئ کولای چي د هري وړې شګي او هري خاشګي سره په لاره کي ودرېږئ او شخړه وکړئ. تاسي بايد روان پاته سئ، ځکه چي پر هر ګودر د علم او ادب تږي ستاسو د حکمت د آب په تمه دي.
په درناوي، ميني او مننې سره
محمدسميع صادق


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ